# دامام جعفر صادِق خپل
# ځوئ ته نصیحتونه

05-March-2020

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے
د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ          وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ          وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده کيدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوکړي بيا چه څه غواړي کوي دِ (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اُبئ بن كَعْب رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ عرض اوکړو: ''**يارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه په تاسو

باندے ډير زيات درود شريف وايم، تاسو اوفرمائے چه د ورځے څومره حِصَّه د دُرُود وئيلو د پاره مُقَرَّر کړم؟ نو نَبِيّ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اُوفرمائيل: ته چه څومره غواړے مُقَرَّره ئے کړه. حضرت اُبیٔ بن کَعْب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: د شپے او ورځے ځلورمه حِصَّه د دُرُود وئيلو د پاره مُقَرَّره کړم؟ نو خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: **مَا شِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ** يعني ته چه څومره غواړے مُقَرَّره ئے کړه خو که ته د دے نه هم زيات وخت مُقَرَّر کړے نو ستا د پاره به [زياته] بهتره وي. حضرت اُبیٔ بن کَعْب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: زه د شپے او ورځے نيمه حِصَّه د دُرُود وئيلو د پاره مُقَرَّره کړم؟ نو حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: **مَا شِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ** يعني ته چه څومره غواړے مُقَرَّره ئے کړه خو که ته د دے نه هم زيات وخت مُقَرَّر کړے نو ستا د پاره به [زياته] بهتره وي. نو حضرت اُبیٔ بن کَعْب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: زه د شپے او ورځے په درے کښے دوه حِصَّے د دُرُود وئيلو د پاره مُقَرَّرے کړم؟ نو حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: **مَا شِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ** يعني ته چه څومره غواړے مُقَرَّره ئے کړه خو که ته د دے نه هم زيات وخت مُقَرَّر کړے نو ستا د پاره به [زياته] بهتره وي. نو حضرت اُبیٔ بن کَعْب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: "**اَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِیْ كُلَّهَا، زه به د شپے او ورځے ټول وخت دُرُود وئيلو کښے تيروم.**" نو نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: "**اِذًا تُكْفٰى هَمُّكَ وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ** که ته داسے اوکړے نو دُرُود شريف به ستا د ټولو فِکرونو او غمونو لرے کولو د پاره کافي شي او ستا د ټولو ګناهونو کَفّاره به شي."[1]

---

[1] ...ترمذی، کتاب صفۃ القیامۃ، باب ۲۳، ۲۰۷/۴، حدیث: ۲۴۶۵

ذاتِ والا پہ بار بار درود بار بار اور بے شمار دُرُود
سر سے پا تک کروڑ بار سلام اور سراپا پہ بے شمار دُرُود
بے عدد اور بے عدد تسلیم بے شمار اور بے شمار دُرُود
بیٹھتے اٹھتے جاگتے سوتے ہو اِلٰہی مِرا شعار دُرُود

(ذوقِ نعت، ص۸۶۔۸۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني گل:** نيك او جائز كار كښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

# د بيان اوريدلو نيتونه

۞ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بيان واورئ ۞ پوره تَوَجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ۞ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ....معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده "**د امام جعفر صادِق خپل ځوئ ته نصیحتونه**". په دے بیان کښے به مونږه د اِمام جعفر صادِق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د سِیرت او کِردار مُتَعَلِّق اورو. د هغوئي تعارُف به هُم اورو، او هغوئي چه خپل ځوئ حضرت سیِّدُنا امام موسیٰ کاظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته کوم کوم نصیحتونه کړي وو؟ د هغے په باره کښے به هُم څه اورو. ټول بیان په پوره تَوَجُّه سره د اوریدو نِیَّت اوکړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د ټولو نه مخکښے د امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، محمّد اِلیاس عطّار قادِري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د کتاب "**د نیکۍ دعوت**" نه یو ایمان تازه کوونکے حکایت وارو:

## د وړوکي سیِّد زاده خوفِ خُدا

د څلورو کالو یو **حقیقي مَدَني ماشوم** سَیِّد زاده په چغو چغو ژړل، یو صاحِب چه د آلِ رسول د خدمَت جذبه ئے لرله ورته عرض اوکړو: شهزاده! خیر خو دے؟ که د څه څیز ضرورت وي نو ما ته حکم اوکړئ چه اوس په دے ساعت ئے درته راوړم. دا ئے چه واوریدل نو د مَدَني ماشوم د ژړا آواز نور هم اوچت شو او هغه اُووئیل: کاکا جانه! د **اللّٰه** تعالیٰ د غضب او د جَهَنَّم د عذاب د یَرے نه مے زړه بے قراره دے! هغه صاحِب ورته په مِینه عرض اوکړو: شهزاده! اوس خو لا تاسو ډیر وړوکے ئے، د اوس نه دومره ولے یَریږئ؟ په اطمینان سره اوسئ! ماشومانو ته به عذاب نه ورکولے کیږي. دا ئے چه واوریدل نو مَدَني ماشوم د خپلے یَرے حال نور هم ښکاره کړو او په ژړا ژړا ئے اُووئیل چه: کاکا جانه! ما لیدلي دي چه د غټو لرګو سوَزَوَلو د پاره د هغو نه واړه واړه لرګي او چخچي راتاؤ کړے شي، څکه چه واړه لرګي زر اور اَخلي او د دے سره بیا غټ لرګي

اور واخلي او اوسوَزي! زه يَريږم چه هسے نه کله چه د ابوجهل او ابولَهَب په شان غټ غټ کافران په جَهَنَّم کښے سوزَوَل کيږي نو د هغوئي د سوَزَوَلو د پاره د وړو لرګو په ځائے ما اور ته غوزار نه کړي!

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو خبر ئے چه هغه د څلورو کالو حقيقي مَدَني ماشوم څوك وو؟ هغه بل څوك نه وو! بلکه زمونږ د زخمي زړونو درمان او د اهلِ بيتِ اَطهار د سترګو ستورے حضرت سَيِّدُنا **امام جَعفر صادِق** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو.

(د نيکئ دعوت ص 566)

***تیری نسلِ پاک میں ہے بچّہ بچّہ نور کا***

***تو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا*** (حدائقِ بخشش، ص246)

**شرحِ کلامِ رضا:** **اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دے شعر کښے فرمائي: **یانُورَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو خو ئے نُور بلکه **نُورٌعلٰىنُور** (يعني په نُور د پاسه نُور ئے). ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مُبارَك نسل کښے چه به د قيامته پورے څومره بچي وي يعني ساداتِ کرام، هغوئي هم ټول نُور دي. اے د نور والا خوږ خوږ آقا! ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټوله کورنئ نُور، نُور او بس نُور ده.

(د نيکئ دعوت ص 566)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اے عاشقانِ صَحابه و اهلِبَيت!** تاسو واوريدل چه اِمام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د ماشوم والي نه د **الله** پاك ويره لرله. سوچ خو اوکړئ نن صبا د څلورو کالو ماشوم په هيڅ هُم نه پوهيږي. خو د اِمام زينُ العابِدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نمسي او حضرت اِمام باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ځوئ جناب امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حال دا وو چه په دومره وړوکي عُمر کښے هُم د **الله** د ويرے نه بے قراره وو او د سترګو نه ئے اوښکے بهيدلے او دا فِکر ئے کولو چه چرته زه جهنَّم ته غوزار نه کړے شم. اے کاش! چه مونږ ته هم دا سوچ نصيب شي،

کاش چه مونږه هم د **الله** پاك د ویرے نه اوژاړو. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خوفِ خُدا

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** یوه بله خبره چه مونږ ته د دے حکایت نه معلومه شوه، هغه دا چه زمونږه بُزرګانِ دین به د خپل بچو څنګه بهترین او زبردست اسلامي تربِیَّت کولو چه حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ صرف د څلورو کالو په عُمر کښے د **الله** د ویرے ژاړي. د څلورو کالو په عُمر کښے دا سوچ جوړیدل صرف د **الله** والؤ خاصّه ده، ځکه چه دا سوچ هله جوړیدے شي چه په کور کښے د **الله** ویره لرونکي مور او پلار وي، دا سوچ خو هله جوړیدے شي چه د هغه کور کسان د دُنیا په غمونو کښے نه بلکه د آخرت به غم کښے ژاړي، داسے ښکلے او پاکیزه سوچ خو په هغه کور کښے پیدا کیدے شي چه په هغے کښے مونځونه کیږي، داسے ښکلے او پاکیزه سوچ خو په هغه کور کښے پیدا کیدے شي چه په هغے کښے د قرآنِ پاك تلاوت کیږي، داسے ښکلے او پاکیزه سوچ خو په هغه کور کښے پیدا کیدے شي چه په هغے کښے د **الله** او رسول نافرماني بده ګڼړلے کیږي، داسے ښکلے او مدني سوچ خو په هغه کور کښے پیدا کیدے شي چه په هغے کښے د پردے اهتمام وي، داسے ښکلے او پاکیزه سوچ خو په هغه کور کښے پیدا کیدے شي چه په هغه کور کښے د دروغو نه نفرت کیږي او رښتیا وئیل پکښے ښه ګڼړلے کیږي.

نو د هُم دے تربِیَّت اثر وو چه حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ماشوم والي نه د **الله** ویره لرله. د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په باره کښے منقول دي چه هغوئي به د شپے قبرستان [یعني ادیرے] ته تشریف یوړلو او فرمائیل به ئے چه اے قبرونو والؤ! څه وجه ده چه زه تاسو ته آوازونه کووم خو تاسو هیڅ جواب نه راکوئ؟ بیا به هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ اُوفرمائیل: افسوس! چه زما او ستاسو په مینځ کښے پرده ده، خو راتلونکي وخت کښے زه هُم

ستاسو په شان کيدو والا يم. هغوئي به هُم دا خبرے کولے کولے تر دے چه چه سحر به شو نو بيا به ئے د مانځه د پاره جُمات ته تشريف يوړلو. (آئينہ عبرت ص۶۴)

## زما څه حيثيت دے؟

منقول دي چه يو ځل حضرتِ سَيِّدُنا داوٗد طائي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ په خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اوکړو چه ما ته څه نصيحت اوکړئ، خو هغوئي خاموشه پاتے شو، چه کله ورته هغوئي دوباره عرض اوکړو چه د اهلِبيت کيدلو په وجه چه **اللّٰه** پاك تاسو ته کوم فضيلت درکړے دے، نو په دے لحاظ ضروري دي چه تاسو ما ته نصيحت اوکړئ. امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ اُوفرمائيل چه: زه خو پخپله يريږم چه هسے نه د قيامت په ورځ زما جَدِّ اعلیٰ (يعني رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ما د لاسه اونيسي او دا تپوس را نه اوکړي چه تا پخپله زما فرمانبرداري ولے نه ده کړي؟ ځکه چه د نجات تَعَلُّق د نسب سره نه دے بلکه دا د اعمالِ صالحه سره تَعَلُّق لري. حضرتِ داوٗد طائي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ چه دا واوريدل نو ډير عبرت ئے حاصل کړو، يعني چه د اهلِ بيت د خوفِ خُدا دا حالت دے نو زما څه حيثيت دے؟ (خوفِ خدا، ص۱۱۱)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا خو مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ صرف يو وَصف واوريدلو يعني د هغوئي د **خوفِ خُدا** مُتَعَلِّق مو واوريدل، حالانکه د هغوئي شان دا دے چه هغوئي په هر وَصف کښے بے مِثل و بے مثاله دے. - عبادت، رياضت، تقویٰ، زُهد، پرهيزګاری، نرمی، شفقت، حِلم، خوفِ خدا، علم و عمل غرض دا چه هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د بهترينو عادتونو او په عباداتو کښے د اوچتے مرتبے خاوند دے! راځئ چه د هغوئي مختصر تعارُف وارو:

# د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارف

حضرتِ **امام جعفر صادِق** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه په 17ربیع الاوّل 83 هجری د ګُل په ورځ په **مدینۀ منوره** کښے پیدا شو. د **حضرت امام جعفر صادق** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه کُنیت ابوعبد**الله** اور ابواسماعیل او لقب صادق، فاضل اور طاہر دے. **حضرت امام جعفر صادق** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه د حضرتِ امام محمد باقِر رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه مشر ځوئ دے. د حضرت **امام جعفر صادق** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه د والده محترمه نوم حضرت سیدتنا اُمِّ فَروَه رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْهَا دے او هغه د **اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ [د ځوئ له طرفه] نمسئ ده. (شرح شجرہ قادریہ، ص۵۸) او د والدِ محترم نوم ئے حضرت امام محمد باقر رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه دے چه هغوئي د امام **زَیْنُ الْعَابِدِین** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه ځوئ دے، دغسے د هغوئي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه شجرۀ نسب] د والده محترمه له طرفه **امیرُالمؤمنین** حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته او د والد محترم له طرفه **اَمِیْرُ الْمُؤمِنِیْن** حضرت علی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته رسیدلي ده، یعنی هغوئي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه د مور له طرفه **"صِدِّیقي"** او د پلار له طرفه **"عَلَوِی و فاطِمی"** دے. (شرح العقائد، ص۳۲۸)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** مونږه واوریدل چه حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه سیِّد دے. د قادري سلسلے شیخ دے. د حضرتِ سَیِّدُنا **عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اولاد نه دے. د ګلستانِ اَهلِبَیت خوشبوداره ګُل دے او په اَهلِبَیتِ کرامو کښے شامل دے او د اَهلِبَیتِ کرامو شان دا دے چه رَسُولِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے چه: یو بنده هُم کامِل مومن نه شي کیدے تر څو چه زما سره د خپل ځان نه هُم زیات مَحبَّت اونکړي او زما ذات هغه ته د خپل ذات زیات محبوب نه شي او زما اولاد هغه ته د خپل اولاد نه زیات ګران نه شي او زما اَهلِبَیت هغه ته د خپل کور د کسانو نه زیات ګران او

محبوب نه شي. (شعب الايمان، باب في حب النبی، ۱۸۹/۲، حديث: ۱۵۰۵)

مونږ ته پکار دي چه اَهلِبَيتِ کرام سره مَحبَّت خپل شعار جوړ کړو ځکه چه دے حضراتو سره مَحبَّت او تَعَلُّق د خير و بَرَکت باعِث دے او ګُمراهي او ضَلالت نه د نجات ذريعه هُم ده. څوك چه دے پاکو حضراتو سره مَحبَّت کوي هغه کامياب شي او هغه به کله هُم نه ګُمراه کيږي ځنګه چه زمونږه خوږ مکّي مَدَنی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زه په تاسو کښے دوه څيزونه پريږدم، تر څو چه تاسو دا مضبوط نيولي وي نو هيڅ کله به نه ګُمراه کيږئ، (يو) کتابُ الله (او بل) زما آل [يعني اَهلِبَيت]. (مسلم، کتاب فضائل الصحابه، ص۱۰۰۸، حديث:۲۴۰۸، ملتقطا) **الله** پاك دِ مونږ ته د اَهلِبَيتِ کرامو او صحابهٔ کرامو رښتينے عشق و مَحبَّت رانصيب کړي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هر وخت په عبادت کښے مشغول اوسيدلو. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه ز به د يوے زمانے پورے د حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښے حاضريدلم. ما به هغوئي هميشه د درے عبادتونو نه يو عبادت کښے مصروف ليدلو، يا خو به هغوئي په مانځه کښے مشغول وو يا به ئے د قرآنِ پاك تلاوت کولو او يا به ئے روژه نيولي وه.[1] حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **الله** پاك دُنيا ته حُکم‌اوفرمائيلو: اے دُنيا څوك چه زما عبادت کوي ته د هغے خدمت کوه او څوك چه ستا خدمت کوي ته هغه ستړے کړه. (حلية الاولياء، جعفر بن محمد صادق ۲۲۶/۳، رقم: ۳۷۸۵)

حضرتِ سَيِّدُنا عَمرو بن مِقدام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان کوي: چه زه کله هُم حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وِينم نو پوهه شم چه دا د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د اولاد نه دے. يو روايت کښے دي چه حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په خلقو دومره طعام

[1] شرح شجرہ قادریه، ص۵۸ بتغیر قلیل

خوړلو چه [بعضے وخت به ئے] د خپل ځان د پاره هُم هيڅ پاتے نه کړل. حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته په 15 [پينځلّسم] رَجَبُ الْمُرَجَّب سن 148 هِجري کښے د 68 [اته شپيته] کالو په عُمر کښے چا بدنصيبه زهر ورکړل، او هغه د هغوئي د شهادت سبب جوړ شو.

د حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مزار مبارك په جَنَّتُ الْبَقِيْع کښے د خپل والِد محترم حضرت امام محمد باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په څنګ کښے دے.[1]

## د امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عِلم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ډير زيات عِلم و فضل مالِك وو. اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چه پخپله د عِلم سمندر وو، هغوئي هُم د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره دوه کاله پورے د حضرت امام جعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په صُحبتِ بابرکت او عِلمي حلقو کښے اوسيدلے وو. اِمامِ اعظم نُعمان بِن ثابِت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پخپله فرمائي چه: که زما په ژوند کښے دا دوه کاله نه وے (کوم چه ما د حضرت امام جعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښے تير کړل) نو نُعمان (يعني زه) به هلاك شوے وے. (آدابِ مرشدِ کامل، ص۱۷۰)

## اِبنِ آدم باندے د الله پاك احسانات

راځئ چه په دے باره د حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يوه واقعه واورو:

چنانچه يو بزرګ فرمائي چه زه د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو ليلٰی او حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره د حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښے حاضر شوم. حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ

[1] شرح شجره قادريه، ص۵۹

اللہِعَلَیْہ نه تپوس اوکړو چه: ستا نوم څه دے؟ هغوئي عرض اوکړو: نُعمان. بیا ئے ترینه تپوس اوکړو چه: اے نُعمان! آیا تا خپل سر ناپ کړے دے؟ هغوئي عرض اوکړو: زه خپل سر څنګه ناپ کولے شم؟ بیا ئے ترینه تپوس اوکړو: آیا ته د سترګو نمکیني، د غوږونو تریخ والے، د سپیږمو حرارت او د شونډو د خوږوالي په باره کښے معلومات لرے؟ هغوئي عرض اوکړو: نه. بیا ئے ترینه تپوس اوکړو: تا ته هغه کَلِمه معلومه ده د کومے اَوَّل چه کُفر او آخِر ایمان دے؟ حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ ابُو لیلٰی رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ عرض اوکړو: اے اِبنِ رَسُولُ‌الله! د کومو څیزونو په باره کښے چه تاسو تپوس اوکړو د هغے په باره کښے مونږه خبر کړئ. هغوئي اوفرمائیل: زما د نِیکه (اِمام زَیْنُ الْعابِدِین رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ) نه رِوایت دے چه حُضُور نبیِّ پاك صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: **الله** پاك په خپل فضل و احسان نمکیني د اِبنِ آدم په سترګو کښے کیښودي ده ځکه چه دا دواړه د وازګے ټُکړے دي، که داسے نه وے نو دا به ویلي شوے وے.

په اِبنِ آدم باندے **الله** پاك دا فضل و احسان او مهرباني اوکړه چه د هغه په غوږونو کښے ئے تریخ والے کیښودو چه هغه د **حشراتُ الْارض** [یعني لکه میږو او نورو د زمکے د پاسه ګرځیدلو او الوَتلو والا چینجو وغیره] د پاره رُکاوټ دے ځکه چه که څه چینجے [میږے وغیر] غوږ ته داخل شي نو دماغو ته به اورسي خو چه کله [هغه] تریخ والے اوڅَکي نو بیرته اُوځي او اوتښتي.

**الله** پاك په خپل فضل و احسان او رحمت حرارت [یعني ګرمائش] د اِبنِ آدم په سپیږمو کښے کیښودو چه په هغے هغه بوئي کول کوي، که دا نه وي نو دماغ به بدبوادر شي.

**الله** پاك په اِبنِ آدم باندے دا مهرباني او فضل او احسان اوکړو چه خوږوالے

[محسوسول] ئے د هغه په شونډو کيښودو چه د هغے په ذريعه هغه د هر څيز خوند څکي او خلق د هغه د خبرو د خوږوالي نه خوند اخلي. (الفوائد لتمام الرازی، ۱/۱۱۱، حدیث:۲۶۲)

امیرِ اَهلِسُنَّت صحیح فرمائي چه:

مُفلسی کا میں کیوں کروں شِکوہ
نعمتوں سے نِہال رکھا ہے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۴۴۵)

[يعني يا الله زه د غريبئ ګِله ولے اوکړم، تا خو ما ته بيشميره نعمتونه راکړي دي]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چه څه کَرے هغه به ريبے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دے کښے هيڅ شك نشته چه حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د خپل مور او پلار د تربِیَّت بهترين مَظهر وو. او بيا هغوئي د خپل اولاد بهترين تربِيَّت اوکړو. د هغوئي صاحبزاده حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مُوسىٰ کاظِم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د خپل وخت بهترين عالِم، مُفتي، شيخ، د **الله** ولي او د طريقت او معرفت اِمام وو. او دا ټول د هغوئي د والِد مُحترم حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د تربِيَّت فيضان وو.

ياد ساتئ چه انسان څه کَرِي هُم هغه ريبي، داسے نه شي کيدے چه يو څيز اوکَرِي او بيا چه د ريبلو وخت راشي بل څه ريبي، هُم دا مثال د اولاد دے چه مور و پلار د اولاد تربِيَّت په اسلامي طريقه نه کوي خو بيا هُم دا توقع ساتي چه "زمونږه بچي به هُم

نیك پرهیزګار جوړ شي، د مور و پلار فرمانبردار به جوړ شي، په معاشره کښے به عزتمند او با کِردار جوړ شي'' او چه بیا کله نتیجه د دے خلاف راشي نو بیا وخت تیر وي، بیا ئے که مور و پلار تربِیَّت کول غواړي نو هُم نه ئے شي کولے.

**یاد ساتئ!** د اولاد ښه تربِیَّت کول د مور و پلار ذِمَّه واري ده، او دا ذِمَّه واري به زمونږه بُزرګانِ دِین په ډیره ښه طریقه پوره کوله، د موقعے په مناسبت به ئے خپلو بچو ته په مختلف انداز کښے نصیحتونه کول.

امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چه خپل ځوئ ته کوم نصیحتونه کړي وو، راځئ چه هغه نصیحتونه او د هغے نه حاصلیدو والا مَدَني ګلونه واورو:

## د اِمام جعفر صادق خپل ځوئ ته نصیحتونه

د یو بزرګ بیان دے چه: د حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه یو شاګرد ما ته اُووئیل چه یوه ورځ زه د حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په خدمت کښے حاضر شوم، ورسره د هغوئي ځوئ حضرت مُوسیٰ کاظِم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ناست وو او دوئي ورته نصیحتونه کول. یو څو خبرے چه ما یادے ساتلے شوے هغه دا دي چه:

حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اُوفرمائیل: اے زما ځویه! زما نصیحت قبول کړه او زما خبرے یادے ساته، که دا یادے اوساتے نو ژوند به دې هُم ښه تیریږي او مرګ به دې هُم ښه راځي.

## مالدار څوك؟

حضرت امام جَعفر صادِق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وړومبے نصیحت دا اوکړوو چه: اے زما ځویه!

مالدار هغه دے چه د **اللّٰه** په تقسیم راضي اوسي او څوك چه د بل په مال نظر ساتي هغه د فَقر [یعني غریبئ] په حالت کښے مري. په تقسیمِ اِلٰهی باندے راضي نه اوسیدلو والا [داسے دے] لکه **اللّٰه** پاك ته چه د هغه په فیصله کښے تُهمت لګوي. خپله غلطي وړه ګڼړلو والا د بل غلطي غټه ګڼړي او د بل غلطي وړه ګڼړلو والا خپله غلطي غټه ګڼړي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د دے نصیحت نه مونږ ته دا معلومه شوه چه په ځان کښے قَناعَت پیدا کړو او په هر حال کښے د **اللّٰه** پاك شکر ادا کوو او چه هغه مو په څه حال ساتي د هغه په رضا راضي اوسو.

## د عُلَماء صُحبت باعِثِ عِزَّت دے

امام جَعفر صادِق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه دویم نصیحت دا اوکړو چه: اے زما ځویه! د نورو د عیبونو نه د پرده اوچتولو والا خپل عَیبونه ښکاره شي. د بغاوت تُوره اوچتوونکے په هُم هغه تُوره قتل کیږي. د چا د پاره کنده کنستلو والا پخپله هغے ته غورزیږي. د بے وقوفو صُحبت کښے کښیناستلو والا سپکیږي او ذلیله کیږي او د عُلَماء صُحبت اختیاروونکے عِزَّت حاصلوي. او د ګناه ځائے ته تلونکي باندے تُهمت لګیږي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د دے نصیحت نه مونږ ته دا درس حاصل شو چه مونږ ته د خلقو عیب ښکاره کول نه دي پکار، مونږ ته همیشه د خلقو سره خیر ښیګړه کول پکار دي او د عُلَماء په صُحبت کښے کښیناستل پکار دي.

هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه دریم نصیحت دا اوکړو چه اے زما ځویه! په خلقو باندے عَیب مه

لګوه، ګني خلق به په تا باندے عیب اولګوي او فضولو خبرو نه ځان ساته ګنې د هغے په وجه به دې په عِزَّت کښے کمي راځي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د دے نصیحت نه مونږ ته دا درس حاصل شو چه د بل چا عیبونو باندے د نظر ساتلو په ځائے خپل عیبونه اولټوو، خپله اصلاح اوکړو او همیشه د فُضولو او لا یعني خبرو نه ځان ساتو.

امام جَعفر صادِق رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ څلورم نصیحت دا اوکړو چه:

اے ځویه! حق خبره کوه، که [هغه] ستا په حق کښے وي او که [ستا] خلاف وي ځکه چه مذمَّت سره به ته د خپلو دوستانو له طرفه مخامخ کیږے.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د دے نصیحت نه مونږ ته دا درس حاصل شو چه مونږ ته هر حال کښے د شریعت د تقاضو مطابق رښتیا وئیل پکار دي.

## د بُغض و نفرت سبب

پینځم نصیحت ئے دا اوفرمائیلو چه:

اے زما ځویه! د قرآنِ پاك تلاوت کوه، سلام عام کړه، د نیکئ حُکم ورکوه او بدئ نه منع کول کوه، څوك چه تا سره تَعَلُّق مات کړي ته هغه سره تَعَلُّق جوړوه، څوك چه تا سره خبرے کول پریږدي ته هغه سره خبرو کولو کښے ورمخکښے کیږه، څوك چه تا نه سوال اوکړي هغه ته ورکړه کوه، **چُغلئ** نه ځان ساته ځکه چه دا په زړونو کښے بُغض پیدا کوي. د خلقو عیبونه مه لټوه ځکه چه دا خپل ځان (د مُذَمَّت او تُهمت) د هَدَف جوړلو قائم مقام دے.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دے نصيحت نه حاصل شوي تړول مَدَني ګلونه ژوند د بهتر نه بهتر جوړولے شي. ځکه مونږ ته په دے باندے عمل کول پکار دي.

## د نافرمانو مثال

امام جَعفر صادِق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ خپل ځوئ ته شپږم نصيحت دا اوکړو چه:

اے زما ځويه! که چا سره د ملاقات شوق لرے نو صرف نيکو خلقو سره ملاقات کوه، نافرمانو سره ملاقات مه کوه ځکه چه نافرمان د هغه کمر په شان دے د کوم نه چه اوبه نه بهيږي، د داسے وَنے په شان دے کومه چه نه شنه کيږي، د داسے زمکے په شان دے په کومه چه ګيا نه راخيژي. (حلية الاولياء، جعفر بن محمد صادق ۳/ ۲۲۸، رقم: ۳۷۹۳)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ ته د دے نه دا درس هُم حاصليږي چه مونږه د خپل اولاد ديني او اسلامي تربِيَّت کښے هيڅ کمے پريږ نه دُو. خپل اولاد ته د **اللّٰه** پاك او د هغه د حبيب صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم فرمانبرداري اوښايو، خپل اولاد د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښے شامل کړو، خپل اولاد دعوتِ اسلامي **مَدرَسةُ الْمَدينه** او **جامِعَةُ الْمدِينه** کښے داخل کړو چه ماشوم والي نه هغوئي ته د عشقِ رَسُول درس حاصل شي، ځکه چه ماشوم ته څه تعليم و تربِيَّت ورکړے شي د هغے اثر ډير پوخ وي، څنګه چه زمونږه خوږ نبي مکّي مَدَني مُصطَفىٰ صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **اَلْعِلْمُ فِی صِغَرِہٖ کَالنَّقْشِ عَلَی الْحَجَر** يعني ماشوم والي کښے عِلم حاصلول د کاڼي د نقش په شان (پوخ) وي. (مجمع الزوائد، ۱/ ۳۳۳، حديث: ۵۰۱۵)

راځئ چه د تربِيَّتِ اولاد په باره کښے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم درے فرامِين واورو:

﴿۱﴾ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم چه کله دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا (پ۲۸التحریم:۶) [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالایمان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه بچ کړئ.

نو صحابۂ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض اوکړو: یارَسُولَ الله! مونږ د خپل کور کسان د اور نه څنګه بچ کړو؟ نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: هغوئي ته د هغه کارونو حکم ورکړئ کوم چه **الله** پاك ته خوښ دي او د هغه کارونو نه ئے منع کړئ کوم چه **الله** پاك ته ناخوښه دي. (دُرّ مَنثور، ۸/ ۲۲۵)

﴿۲﴾ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: خپل اولاد ته د درے خصلتونو تعلیم ورکړئ (۱) د خپل نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحبَّت (۲) د اَهلِبَیت مَحبَّت (۳) د قرآنِ پاك تعلیم. (جامع صغیر ،باب الھمزۃ، حدیث:۳۱۱، ص۲۵)

﴿۳﴾ نبيِّ کریم رَءُوۡفٌ رَّحِیۡم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: یو پلار هُم خپل ځوئ ته داسے تُحفه نه ده ورکړي، چه هغه د ښه ادب نه بهتره وي. (ترمذی، کتاب البر والصلۃ، باب ماجاء فی ادب الولد، ۳/۳۸۳،حدیث: ۱۹۵۹)

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دے حدیثِ پاك نه لاندے فرمائي: ښه ادب نه مُراد بچي دینداره، مُتَّقِي او پرهیزګاره جوړول دي. اولاد د پاره د دے نه ښه تُحفه څه کیدے شي ځکه چه دا څیزونه دِین او دُنیا دواړو کښے په کار راځي. مور و پلار ته پکار دي چه د دُنیا نه تللو نه مخکښے خپل اولاد صرف مالدار نه جوړوي، بلکه هغه دِ دینداره جوړ کړي چه هغه د دوئي هم په قَبْر کښے په کار راشي ځکه چه د ژوندي اولاد د نیکو ثواب وفات شوو مور او پلار ته قَبْر کښے ورکولے کیږي.

(مرآۃ المناجیح،٦/٥٦٥،ملتقطاً)

## د اولاد د خپل مور او پلار سره تَعَلُّق

اے عاشقانِ اولياء! په قرآن و حديث کښے د مور و پلار شان او عظمت بيا بيا بيان شوے دے، لِهذا په اولاد باندے هُم لازِم دي چه خپل مور و پلار سره احسان او ښيګړه اوکړي. د هغوئي ادب و احترام اوکړي. او د هغوئي ادب کول د ځان د پاره خوش قسمتي اوګنړي. بالخصوص بوډا والي کښے هغوئي ته د خدمت ډير حاجت وي.

بله دا چه د بعضے بنده عُمر ډير شي نو هغه بعضے وخت په وړه وړه خبره غُصَّه کوي، شور او جګړه کوي، بعضے وخت د ډير زيات بوډا والي په وجه په خپله بستره باندے تش بول، ډك بول هُم اوکړي، دا يو امتحان وي، او په داسے وجوهاتو عام طور اولاد تنګ شي، خو ياد ساتئ چه مور خو هُم د ماشوم ګند برداشت کوي، ځکه مونږ له هم د هغوئي په هره خبره صبر، صبر او صرف صبر او د هغوئي ادب کول ضروري دي. هغوئي سره بد اخلاقي کول، هغوئي رټل وغيره خو پريږدئ بلکه هغوئي ته د "اُف" وئيلو اجازت هم نشته ګنړِ ياد ساتئ چه د دواړو جهانو د بربادئ سره مخامخ کيدے شئ ځکه چه د مور و پلار نافرمانه په دُنيا کښے ذليل او خوار وي او په آخرت کښے هُم د اور د عذاب حقدار وي.

الله پاك په پينځلَسمه سيپاره سُوْرَۀ بني اِسرائيل آيت نمبر 15 کښے اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا ﴿۲۳﴾ (پ١٥،بني اسرائيل:٢٣) | [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِيمان: نو هغوئي ته اُف هُم مه وايه او هغوئي مه رټه او هغوئي سره په تعظيم خبره کوه. |

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سوچ خو اوکړئ چه مور او پلار ته "اُف" وئيل هُم منع دي نو هغوئي ته په غُصَّه خبره کول، هغوئي رټل او هغوئي سره شور کول به څومره د محرومئ باعِث وي. ځکه مونږ ته په دے آيتِ قرآني مکمل عمل کول پکار دي چه هسے نه د مور و پلار د نافرمانئ په وجه جَهنَّم ته غوزار کړے شو.

## مور او پلار سره د ښيګړے کولو باره کښے يو څو حديثونه

راځئ چه اوس د مور و پلار سره د احسان او ښيګړے او د هغوئي د فرمانبردارئ په باره کښے يو څو حديثونه واورو:

﴿۱﴾ خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **رِضَا اللهِ فِيْ رِضَا الْوَالِدَيْنِ وَسَخَطُ اللهِ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ** يعني د مور و پلار په رضا کښے د **الله** پاك رضا او د هغوئي په ناراضئ کښے د **الله** پاك ناراضي ده. (شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، ۱۷۷/۶، حديث: ۷۸۳۰)

﴿۲﴾ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **هُمَا جَنَّتُكَ وَ نَارُكَ** يعني هغوئي (يعني مور و پلار) دواړه ستا جَنَّت او دوزخ دي (يعني که هغوئي راضي اوساتے نو د جَنَّت حقدار به ئے او که خفه ئے کړے نو د جَهنَّم مستحق به ئے) (ابنِ ماجه، کتاب الادب، باب بر الوالدين، ۱۸۶/۴، حديث: ۳۶۶۲)

﴿۳﴾ هره ګناه چه **الله** پاك د چا د پاره اوغواړي معاف ئے کړي خو د مور او پلار نافرماني او هغوئي ته تکليف رَسَوَل نه بخښي بلکه داسے کوونکي ته د هغه د مرګ نه مخکښے د دُنيا په ژوند کښے ډيره زر سزا ورکوي. (شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، فصل فی عقوق الوالدين، ۱۹۷/۶، حديث ۷۸۹۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو مَدَني كارونو كښے يو مَدَني كار ''جُمات درس''

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نن صبا دے د فساد نه ډك دَور كښے كه مونږه غواړو چه زمونږه اولاد نيك جوړ شي، د مور و پلار فرمانبردار جوړ شي نو مونږ ته پكار دي چه پخپله هُم د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتو او خپل اولاد هُم دے مَدَني ماحول كښے شامل كړو.

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ذَيلي حلقے دولسو مدني كارونو كښے خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. اَمِيرِ اهلسنت هره ورځ كم از كم دوه ګينټے د مدني كارونو د پاره د وركولو ترغيب فرمائيلے دے، يقيناً څوك چه څومره زيات وخت وركړي ، د هغه د پاره به د ثواب ګټلو موقعے هم هغه همره زياتے شي. اِنْ شَآءَ الله

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني كارونو كښے يو د هرے ورځ مدني كار ''**جُمات درس**'' هم دے. ☆ ''**جُمات درس**'' سره جماتونه آباديږي، ☆ ''**جُمات درس**'' سره د انفرادي كوشش كولو موقع نصيب كيږي. ☆''**جُمات درس**'' سره د لمُونځ كوونكو په شمير كښے اضافه كيږي. ☆ د ''**جُمات درس**'' په بركت د نيكئ او خير خبرے زده كولو او نورو ته د زده كولو موقع نصيب كيږي. د نيكئ خبرے زده كولو او نورو ته د ښودلو خو ډيرے فائدے دي. چنانچه

منقول دي چه الله تعالیٰ حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله: د نيكئ خبرے پخپله هم زده كړه او نورو ته ئے هم زده كوه، زه به د نيكئ زده كوونكو او نورو ته زده كوونكو قبرونه روښانه كړم چه هغوئي ته هيڅ قِسمه څه ويره نه وي. (حلية الاولياء، كعب

الاحبار،٦/٥، رقم:٦٢٢٧)

د بيان شوي روايت نه معلومه شوه چه ښو ښو نيتونو سره د سنتو ډك بيان كولو يا درس وركولو او اوريدلو والا خو مزے شوے. اِنْ شَآءَ اللّٰه د هغوئي قبرونه به د دننه نه ځليږي او هغوئي ته به هيڅ قِسمه ويره نه محسوسيږي. راځئ چه! د ترغيب د پاره د "**جُمات درس**" يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## مَدَني سپرلے

د تحصيل بهلوال(پنجاب، پاكستان) اوسيدونكي يو اِسلامي ورور په جُمات درس كښے شريك شو، د هغے په بَرَكت ئے هفته واره اجتماع كښے د شركت ذهن جوړ شو، د سُنتو ډكه اجتماع كښے د مبلغِ دعوتِ اسلامی بيان، بيا ذِكْرُالله او په آخره كښے ژړوونكي دُعا د هغه د زړه دُنيا بدله كړه. اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه د ټولو ګناهونو نه د زړه په صِدق توبه اوكړه او د دعوتِ اسلامی پاكيزه مَدَني ماحول كښے شامل شو.

مجھے درسِ فیضانِ سُنَّت کی توفیق ملے دِن میں دو مرتبہ یا اِلٰہی

ما ته د درسِ فيضانِ سُنَّت توفِيق راكړے په ورځ كښے دوه ځله يا اِلٰهي

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د قرآن ټيچر ايپ تعارُف

اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونږه او ستاسو ښكلے مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا كښے د تبليغِ دِين د پاره د 107 نه زياتو شُعبه جاتو په ذريعه كوشش كوي. د دعوتِ اسلامي مجلِس آئي

تِي د "QuranTeacher" [قرآن ټیچر] په نوم موبائل ایپلیکیشن لاؤنچ کړے دے. چه د هغے په ذریعه تاسو د 30 [دیرشو] نه زیاتو مختلفو دیني کورسونو کښے داخله اخستلو سره سره د خپلے داخلے سټیټس هم چیك کولے شئ. د دے نه علاوه دکورسونو مختصر تعارُف، د خپل رجسټریشن کولو نه پس د خپل کلاس مُتَعَلِّق معلومات، د کورسونو مُتَعَلِّق تفصیلات او د مَدرَسةُ الْمَدینه آن لائن اَپ ډیټس هُم حاصلولے شئ. زر تر زره په خپل موبائل کښے دا اَیپ انسټال کړئ او نورو ته هُم د دے ترغیب ورکړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د حضرتِ سَیِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په باره کښے بیان اوریدلو. په هُم دے میاشت کښے د هغوئي یومِ عُرس هُم دے. په دے مناسبت ډیر عاشقانِ رَسُول د حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِیصالِ ثواب د پاره په کهیر پورو او خوږو ټِیکلو وغیره باندے فاتِحه وائي، دے خوراك ته **کُونډے** وائي [ځکه چه دا به ئے پخوا په خَورِینو کونډو یعني خورِینو لوښو کښے ورکولو]

امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رِساله "**کفن بیرته راغے**" کښے نور فرمائي چه: د رَجَب په پوره میاشت کښے بلکه په ټول کال کښے چه کله غواړئ د اِیصالِ ثواب د پاره د کونډو خیرات کولے شئ، البَتّه مُناسِب دا دي چه په پینځلسم رَجَب المُرَجَب د "رَجَب کونډے" اوکړے شي ځکه چه هم دا د هغوئي د عُرس ورځ ده.

حضرت عَلّامه جلالُ الدِّین سُیُوطِي شافِعِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نقل فرمائي چه صحابه کِرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به د ووه ورځو پورے د وَفات شوو خلقو له طرفه په خلقو طعام خوړلو [یعني د ایصالِ ثواب یعني هغوئي ته د ثواب بخښلو د پاره به ئے خیرات کولو]. (اَلْحاوِی لِلْفَتاوِی لِلسُّیُوطی

ج٢ ص٢٢٣)

معلومه شوه چه په خلقو د طعام خوړلو په ذريعه اِيصالِ ثواب كول د صحابه سُنّت دي او دَ رَجَب په كونډے كښے هم غِذا يعني د خوراك څيز وي او هغه د اِيصالِ ثواب د پاره په خلقو [او ځپله هُم] خوړلے شي.

اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نور فرمائي: "دَس بیبیوں کی کہانی"، "لکڑ ہارے کی کہانی" او "جناب سَیِّدہ کی کہانی" ټولے هسے بے حقيقته د دروغو قِيصے دي، دا مه لولئ، د دے په ځائے يو ځل سُوْرہ یٰسٓ لولئ د لس ځله قُرآن كريم ختمولو ثواب به مو كيږي دا هم ياد ساتئ! چه صرف په كونډو كښے كِهير خوړل او وَركول ضروري نه دي، په نورو لوښو كښے ئے هم خوړلے او وركولے شئ [او د دے په ځائے بل څه طعام هُم وركولے شئ]. اِيصالِ ثواب (يعني ثواب وربخښل) د قُرآنِ كريم او احادِيثِ مُباركه نه ثابِت دي، اِيصالِ ثواب د دُعا په ذريعه هم كيدے شي او په ډوډئ وغيره باندے د فاتِحه لوستلو په ذريعه هم كيدے شي. د كونډو خيرات هم د ايصالِ ثواب يو صورت دے، دے ته ناجائِز وئيل په شرِيعت باندے دروغ (يعني تُهمت لګول) دي.

## كور ته د تلو راتلو مدني ګلونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه كور ته د تلو راتلو سُنَّتونه او آداب واورو:

﴿١﴾ **چه كله د كور نه بهر اُوځئ نو دا دُعا لوَلئ:** **بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ** (سُنَنُ اَبی داؤد ج٤ ص٤٢٠ حدیث٥٠٩٥)

(ترجمه: د **الله** تعالیٰ په نوم [د كور نه اُوځم]، ما په **الله** تعالیٰ توَكُّل اوكړو، د **الله** نه سِوا نه (د ګناهونو نه د بچ كيدو) قُوَّت شته او نه (د نيكو كولو) طاقت شته. (سُنَنِ ابی داؤد ج٤، ص٤٢٠، حدیث٥٠٩٥)

اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د دے دُعا د لوستلو په بَرَکت به د هدايت په لار اوسيږئ، د آفتونو نه به مو حفاظت کيږي او د الله تعالیٰ مدد به درسره شامل وي.

﴿۲﴾ کور ته د ننوتلو دُعا: اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَلُكَ خَيۡرَ الۡمَوۡلَجِ وَ خَيۡرَ الۡمَخۡرَجِ بِسۡمِ اللهِ وَلَجۡنَا وَبِسۡمِ اللهِ خَرَجۡنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلۡنَا (سُنَنُ اَبی داؤد ج٤ ص٤٢١ حديث٥٠٩٦)

(ترجمه: اے الله جَلَّ جَلالُهٗ زه ستا نه د داخليدو او د وَتلو خير غواړم، د الله تعالیٰ په نامه مونږ (کور ته) دننه راغلو او د الله تعالیٰ په نامه بهر اووَتلو او مونږ په خپل رب الله تعالیٰ توَکُّل اوکړو) د دُعا لوستلو نه پس دِ د کور کسانو ته سلام اوکړي بيا دِ په بارګاهِ رِسالت کښے سلام عرض کړي، د هغے نه پس دِ سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص شريف اولولي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په روزئ کښے به بَرَکت کيږي او په کور کښے به جګړے نه کيږي.

﴿۳﴾ کور ته چه ځئ راځئ نو محارِم او محرِماتو (مثلاً مور او پلار، خويندو وروڼړو او بال بچو وغيره) ته سلام کوئ.

﴿٤﴾ د الله تعالیٰ د نوم اخستو نه بغير مَثَلًا د بِسۡمِ الله وئيلو نه بغير چه څوك کور ته داخل شي نو شيطان هُم ورسره داخل شي.

﴿۵﴾ که داسے مکان (اګر که خپل تش کور) ته داخليږئ چه په هغے کښے هيڅ څوك هُم نه وي نو داسے اُووائے: اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيۡنَ (يعني په مونږه او د الله تعالیٰ په نيکو بندګانو باندے سلام) فرښتے به د دے سلام جواب ورکوي. (رَدُّالۡمُحۡتَار ج۹، ص٦٨٢)

يا داسے وائے: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ (يعني يا نبي په تاسو دِ سلام وي) ځکه چه د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رُوح مبارك د مسلمانانو په کورونو کښے تشريف فرما وي. (شرح الشفاء للقاری ج٢ ص١١٨)

﴿٦﴾ چه کله د چا کور ته ننوتل غواړئ نو داسے وائے: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ آيا زه دننه درتلے شم؟

﴿٧﴾ که د داخليدو اجازت درنکړے شي نو په خوشحالئ بيرته اوګرځئ، کيدے شي چه د څه مجبورئ په وجه به کور والؤ اجازت نه وي درکړے.

﴿٨﴾ چه کله څوك ستاسو د کور دروازه اوډبوي نو سُنَّت دا دي چه تپوس اوکړئ: څوك ئے؟ بهر راغلي کس ته پکار دي چه خپل نوم اوښائي: مَثَلًا اووائي چه: "محمد اِلياس" د نوم ښودلو په ځائے په دے موقع "مدينه" يا "زه يم!" يا "دروازه برسيره کړه" وغيره وئيل سُنَّت نه دي.

﴿٩﴾ په جواب کښے نوم ښودلو نه پس دروازے نه ډډے ته اودريږئ، چه دروازه برسيره کيدو سره مو په کور کښے دننه نظر نه پريوځي.

﴿١٠﴾ د چا کور ته دننه کتل منع دي. د بعضے خلقو کور ته مخامخ لاندے طرف ته د نورو خلقو کورونه وي لِهٰذا چه [ضرورتاً] کړکئ وغيره کښے ګورئ نو د دے خبرے خيال ساتئ چه د هغوئي په کورونو کښے مو نظر نه پريوځي.

﴿١١﴾ چا کره چه لاړ شئ نو د هغه ځائے په انتظاماتو بے ځايه اعتراض مه کوئ، په دے د هغوئي زړه ازاريدے شي.

﴿١٢﴾ چه بيرته ځئ نو د کوربه د پاره دُعا هُم اوکړئ او د هغوئي شُکريه هُم ادا کړئ او سلام هُم اوکړئ او که کيدے شي نو د سُنَّتو ډکه رساله وغيره هُم په تُحفه کښے ورکړئ.

د سُنَّتو د تربِيَّت يوه بهترينه ذريعه د **دعوتِ اسلامي** مَدَني قَافِلو كښے عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر كول هُم دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلكيانے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اِنْ شَآءَاللّٰه! د راروانے هفته وارے د سنّتو ډكے اِجتِماع د بَيان موضوع به وي "**توره تِياره قبر**"

لِـهٰذا د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع كښے د حاضرئ نِيَّت اوكړئ او د انفرادی كوشش كولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوكړئ. لاس اوچت كړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه

باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصاً

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللہِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسے دُرود شریف

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵